**بسم الله الرحمن الرحيم**

## هغه دوه ضد تصویرونه چې زړه زخمي کوي

**(ژباړه)**

له ابو نجيح عرباض بن ساريه رضی الله عنه څخه روايت دی چې وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته داسې خطبه وويله، چې زوړونه یې ولړزول او سترګې يې له اوښکو ډکې کړې، وروسته مو وويل: اې رسول الله! ته به وایې چې وروستۍ خطبه ده، نو موږ ته نصيحت وکړه، بيا يې وفرمايل:

«**أوصيكم بتقوى الله عز وجل، والسمع والطاعة، وإن تأمر عليكم عبدٌ؛ فإنه من يعش منكم فسيرى اختلافًا كثيرًا، فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين، عَضُّوا عليها بالنواجذ، وإياكم ومحدثات الأمور؛ فإن كل بدعةٍ ضلالة.**» [رواه ابو داوود او ترمذي]

***ژباړه:*** *تاسو ته په تقوا، له الله سبحانه وتعالی څخه په وېره او په اورېدلو او اطاعت کړلو سره توصيه کوم، که څه هم غلام ستاسو امير وي. هر څوک چې له تاسو څخه ژوندي پاتې شي، ژر به د ډېرو اختلافونو شاهدان وي؛ نو پر تاسو لازمه ده چې زما او د راشده خلفاوو چې هدايت کوونکي دي، د طريقې پيروي وکړئ؛ هغه پخپلو غاښونو کلکه ونيسئ ـ يعنې پر سنتو د منګولو لګولو لپاره کنايه ده ـ د بدعت له چارو ځانونه لرې وساتئ، ځکه هر بدعت ګمراهي ده.*

کله چې په دې ورځو کې دا حديث وايو، دغه دوه تصويرونه د يو بل تر څنګ ږدو او له يو بل سره يې پرتله کوو؛ نو زموږ زړونه غمجن او زخمي کوي، داسې حالت ولې راځي او موږ دا څه وينو؟

په لومړي تصوير کې تقوا او له الله سبحانه وتعالی څخه وېره وينو، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته وصيت کړی او په دويم تصوير کې داسې ظلم وينو چې ټوله نړۍ يې نيولې ده؛ په لومړي تصوير کې داسې حاکم وينو چې د قرآن او سنتو په رڼا کې پر مسلمانانو حکومت کوي او د هغوی ساتنه کوي، خو په دويم تصوير کې هغه مزدور او خاين حکام وينو چې هر څومره زياتېږي، په همغه اندازه ذليل او ګمزوري کېږي؛ د دې تر څنګ په لومړي تصوير کې د الله سبحانه وتعالی احکامو ته ژمنتيا او د هغه سبحانه وتعالی اطاعت وينو او په دويم تصوير کې بدعتونه او نوي پيدا شوي کارونه وينو، چې له قرآن سره هېڅ تړاو نه لري.

ايا نه وينئ چې ستاسو حالت څېرې رسېدلی؟ ايا د قرآن نه پلي کېدل مو نه غمجنوي؟ ايا د خپل ګران پيغمبر رسول الله صلی الله عليه وسلم امر نه پر ځای کوئ، چې فرمايي: «زما او د راشده خلفاوو پر سنتو منګولې ټينګې کړئ»؟! له هغو پرته ژوند د زغم وړ نه دی، ذلت او بدبختي د دغه دوران سرليک ګرځېدلي او

د کايناتو د خالق له نظام پرته ژوند ګډوډ شوی او انسان هوساينه او ارامي له لاسه ورکړې ده؛ دغه نظام يوازې د هغه دولت په شتون کې ترسره کېدلی شي، چې خلک يې له حاکم سره د الله سبحانه وتعالی د حکم د پلي کېدو په بدل کې بيعت کوي.

اې الله! راشده خلافت د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر منهج ژر حاکم کړه، چې د هغه په واسطه د مسلمانانو مايوسي له منځه ځي او غمونه او مصيبتونه ورڅخه لرې کوي. اې الله! په خپل کريم نور سره ځمکه رڼا کړه! اللهم آمين آمين

**ليکوال: أبو مريم**

**ژباړه: بهير «وياړ»**